له دې راوروسته  په لسمه هجري پېړۍ کې د غزل یو شمېر نور شاعران راپیدا شول او په غزل کې یې دیني او اخلاقي مطالب ځای پرځای کړل چې علي سرور لودي ، ملامست زمینداوري د دې دورې غزل لیکونکي شاعران دي ، په همدې پېړۍ کې د بي بي نېکبختې په نامه یوې عارفې پښتنې هم د نصیحت او دیني لارښوونو نه ډکې غزلې  ویلي دي.

د یوولسمې هجري پېړۍ ( منځنۍ دورې) په لومړۍ نیمایي کې د نورو روحاني شاعرانولکه میرزاخان انصاري ، دولت لوانی ، واصل او علي محمد مخلص دي چې دغه منځنۍ دوره کې روښاني شاعرانو پښتو غزل ته وده ورکړه ، د تصوف موضوعات یې پکې خوندي کړل او ورسره یې په غزل کې هنریت او شعریت ته هم پام وکړ او د عشق حقیقت ته  یې  د مجاز جامې ور په غاړه کړې.

له دې وروسته د یوولسمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې خوشحال بابا ته د پښتو غزل د مزي په رسېدو سره پښتو غزل نوی رنګ او خوند وموند او هم یې د موضوع له پلوه هرې خواته لمن پراخه شوه ، خوشحال خټک په پښتو غزل ټولې هغه لورونې وکړې او پښتو غزل ته یې نوې ځانګړنې او نوي اړخونه ورکړل . د خوشحال بابا پرمهال چې پښتو ادب کومه فني بشپړتیا وموندله په هغې کې د فن او شکل له پلوه پښتو غزل د نورو فورمونو په وړاندې زیات مقبول شو .

اګر چې خوشحال بابا په هره موضوع کې  شعر ویلی دی ،خود استاد راج ولي شاه خټک په وینا د عشقیت کیفیتونه یې زیات په غزل کې څرګند کړي دي، لکه چې وایي:

په غزل په رباعي مې زړه مین دی
چې مدام یم د دلبــرو د جمـــــال

د پورته بیت نه دا څرګندیږي چې خوشحال بابا په پښتو غزل کې نوي ایجادات او نوښتونه وکړل او پښتو غزل یې د معیار لوړې پوړۍ ته ورسوله .

خوشحال بابا په دې هنر کې یوازې پاتې نه شو لکه چې وایي:

د خوشحال سره که کښېني یو څو کاله

دا د غره ختک به واړه شاعران شي

بیا د پښتونخوا له هرې سیمې شاعرانو سر راپورته کړ په لسګونه شاعران رامیدان ته شول او له لسهاو د غزل دیوانونه تخلیق او ترتیب شول ، همدا د پښتو غزل ښه موجودیت و چې په پښتو ادب کې دغه دوره حبیب الله رفیع او راج ولي شاه ختک په وینا د طلایي دورې په نوم یاده شوه .

اشرف خان هجري ، عبدالقادر خان ختک ، صدرخان ختک او سکندرخان ختک د خوشحال بابا د کورنۍ غړي دي ، دوی هم په دغه دوره کې غزلې ولیکلې او په همدغه دوره کې صوفي شاعر عبدالرحمان بابا او نازک خیال شاعر حمید مومند هم غزلې ولیکلې . رحمان بابا یو صوفي شاعر و ، چې په غزلو کې یې توصیه ، اخلاق ، حقیقي عشق او نور مسایل بیان کړل . رحمان بابا چې پښتو غزل ته د حسن او عشق د مرغلرو کوم امېل ور په غاړه کړ تر قیامته به پرې پښتو او پښتانه ویاړي .